


**بسم‌الله‌الرحمن‌الرحیم**

**په بنګله دېش کې د «په نامه ملي ډموکراتیکو ټاکنو» فریب خلکو ته روښانه شوی او دا د ظالم رژیم د بدلون ګټوره لار نه ده**

**(ژباړه)**

**خبر**

د 2018م د دسمبر په 30مه د شیخ حسینې د پرله پسې درېیم ځل ټاکلو د پرېکړې لپاره په بنګله دېش کې خلک د رایې اچونې صندقونو ته لاړل. د دغه ټاکنو په تاوتریخوالي کې لسګونه کسان ووژل شول. دا په داسې حال کې ده، چې د دې مخالفین ادعا کوي چې دا د همېش لپاره رهبري خپله بولي. ټاکنیز کمپاینونه د حسینې د لسګونو مخالفینو د نیولو او زنداني کولو په بدل کې ـ چې مخالفین یې ان سلګونه زره یادوي ـ تر سره شول.

**تبصره:**

د یکشنبه په ورځ «د ملي رېشخند ټاکنو» نه یوازې په بنګله دېش کې سیاسي بحران ژور کړ؛ بلکې په نوي نسل کې یې د واقعي ازادۍ د تر لاسه کولو حس را ژوندی کړی دی. اوس په بنګله دېش کې خلک ښه پوه شوي چې دا ظالم رژیم د غربي تحمیلي ډموکراتیکې پروسې په وسیله له منځه نه ځي. خلک د غرب پلوه نظریو په وسیله تربیه شوي وو، چې د بدلون یوازینۍ هیله یې ډموکراسي ده، ځکه چې دوی ته په هرو پنځو کلونو کې د حاکم په ټاکلو سره مطلق قدرت ورکوي. یاده ادعا له دې چټلو ټاکنو سره بیا غلته ثابته شوه. ځکه خلک په عاجزۍ د غربي امپریالیستانو، خپلې سیمې قوماندان، هند او وفاداره مزدور یې پر ډموکراتیک بنګله دېش د حسینې د برخلیک شاهدان وو. په داسې حال کې چې په ټولو ټاکنو کې بې سارې درغلي او د دولت په مرسته تاوتریخوالی هم پکې و. هند ډېر ژر خپل رضایت اعلان کړ، ویې ویل ټاکنې بېخي منظمې او په ارامه او صافه فضا کې تر سره شوې. (منبع: بي ډي نیوز 24 دات کام، 2018د دسمبر 30مه) اوس خلک په دې پوه شوي، څو چې د وسلوال پوځ مخلص افسران او هغه باندېونه چې د ښکیلاکګر غرب لخوا په بنګله دېش

کې پر خپلو مزدورو حکامو  تپل شوي ازاد نه کړي، نو دا د حسینې د عادلانه او ډموکراسۍ تر اغېز لاندې حکومت به پای ته ونه رسیږي. دا هغه مزدور حاکمان دي چې یوازې د غربي ګټو لپاره پر موږ تپل شوي.

نو د ډموکراتیک نظام د بدلون او د هغې د ظالمې ولکې څخه د ژغورلو یوازینۍ لار، د اسلامي خلافت د ایجاد لپاره فکري او سیاسي کار دی. پر مخلصو پوځي افسرانو واجب ده، چې ژر تر ژره د حسینې د رژیم پر وړاندې راپورته شي او د منهج پر نبووت د اسلامي خلافت د ایجاد لپاره حزب التحریر ته نصرت ورکړي.

**لیکوال: عمادالامین**

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**1440هق د جمادی الاول 1**

**د 2019م د جنوري 7مه**

**ژباړن: حبیب الله**